مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۲۷۴ (از ۱۲ الی ۱۹ عقرب ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**وضعیت امنیتی افغانستان در دورهٔ رئیس جمهور غنی**

وضعیت جنگ در چهار سال گذشته ........ ۴

حملات هوایی و تلفات نظامیان و غیر نظامیان افغان ........ ۴

چرا وضعیت امنیتی وخیم‌تر شد؟ ........ ٦

**د ولسي جرګې د ټاکنو په پايلو کې د روڼتيا په اړه شته انديښنې**

په ټاکنو کې تخنيکي او عملياتي ستونزې ........ ۸

د مهندسی تورونه ........ ۹

څوک به ولسي جرګې ته ځي؟ ........ ۱۰

پر ولسمشريزو ټاکنو د ولسي جرګې د ټاکنو اغېز ........ ۱۰

## مقدمه

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون د اعلان له مخې، ټاکل شوې ده چې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو نوم لیکنه د روان لمریز کال د قوس په ۲۴مه پیل او ټاکنې د راتلونکي ۱۳۹۸هـ ش کال د حمل پر ۳۱مه ترسره شي.

ولسمشر اشرف غني چې د ۲۰۱۴م کال د جنجالي ټاکنو را وروسته د ملي یووالي حکومت په رامنځته کېدو سره ولسمشر شو، ورو ورو د خپلې ولسمشرۍ دورې پای ته په نږدې کېدو دی؛ خو نوموړي څو ورځې وړاندې له بلوم برګ امریکایي رسنۍ سره مرکه کې ویلي، چې د را راونو ولسمشریزو ټاکنو نوماند دی او غواړي هغه کارونه تمام کړي چې د ده په دوره کې پیل شوي او بشپړولو ته اړتیا لري.

د اشرف غني د ولسمشرۍ په روانه دوره کې د هېواد امنیتي او سیاسي وضعیت د تېرې یوې نیمې لسیزې په پرتله له زیاتې بې‌ثباتۍ سره مخ و، فقر او بې‌کاري ورځ تر بلې زیاته شوه، که څه هم له طالبانو سره د سولې په موخه زیاتې هڅې وشوې او لاهم روانې دي؛ تر څنګ یې جګړې زور واخیست او لمن یې د هېواد تر هرې سیمې خوره شوه.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې د اشرف غني د حکومت پر مهال د هېواد امنیتي وضعیت په ځانګړې توګه د جګړې په میدان کې د ملکي وګړو مرګ‌ژوبلې ته لنډه کتنه شوې ده.

د اوونۍ تحلیل په دویمه برخه کې د ولسي جرګې د ټاکنو د لومړنیو پایلو د ځنډ او په پایله کې د روڼتیا په اړه د شته اندېښنو په اړه بحث شوی دی. که څه هم د ملي یووالي حکومت بالاخره پر دې وتوانېد چې د ولسي جرګې ټاکنې له ټولو بې نظمیو، ستونزو او ګنو ننګونو سره ترسره کړي؛ خو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز دمعلوماتو پر بنسټ له نوماندانو سره د رایو د شمېر په برخه کې د روڼتیا او د وروستیو پایلو په برخه کې د ځینو پټو سیاسي معاملو په اړه اندېښنې هغه څه دي، چې پر دغه پروسه یې شکونه را پیدا کړي دي.

# وضعیت امنیتی افغانستان در دورۀ رئیس جمهور غنی



رئیس جمهور غنی زمانی در سپتامبر سال ۲۰۱۴م در رأس قدرت در افغانستان قرار گرفت که مسوولیت‌های نظامی و امنیتی افغانستان از نیروهای بین‌المللی به نیروهای افغان واگذار شده بود و بخش بزرگ نیروهای خارجی نیز از افغانستان خارج شده بودند و تعداد آنها از حدود ۱۳۰ هزار به ۱۵۰۰۰ سرباز خارجی مستقر در افغانستان، کاهش یافته بود.

این‌که پس از به قدرت رسیدن اشرف غنی به حیث رئیس جمهور افغانستان، ماموریت جنگی نیروهای خارجی به ماموریت مشوره‌دهی و تربیت نیروهای افغان تغییر کرد و میدان جنگ در افغانستان تنها به نیروهای نظامی دولت افغانستان سپرده شد، از یک‌سو تلفات نیروهای افغان به اوج خود رسید و از سوی دیگر جنگ نیز شعله‌ورتر گردید.

وضعیت میدان جنگ در چهار سال گذشته، تلفات ملکی در این دوره و اینکه چرا در دورۀ ریاست جمهوری اشرف غنی وضعیت امنیتی کشور بیشتر از پیش وخیم‌تر گردید؟ پرسش‌هایی اند که در این تحلیل به پاسخ‌های آن پرداخته شده است.

## وضعیت جنگ در چهار سال گذشته

با آنکه در زمان تشکیل حکومت وحدت ملی وضعیت امنیتی کشور وخیم بود؛ اما این وضعیت پس از آغاز کار حکومت وحدت ملی، بیشتر از پیش و روز به روز بدتر شد. جغرافیای جنگ از جنوب کشور به شمال کشور گسترش یافت و نظر به قبل، جنگ در ولایت‌های شمال کشور شدت یافت.

در زمان حکومت اشرف غنی، طالبان به اندازۀ قوی شدند که توانستند دامنۀ جنگ را به مراکز شهرهای بزرگ کشور گسترش دهند و در استراتیژی جنگی خود بر حملات تهاجمی تمرکز بیشتر داشته باشند. در پی همین حملات تهاجمی، شهر کندز نخستین شهری بود که پس از سقوط رژیم طالبان، در زمان حکومت وحدت ملی، دو بار به دست طالبان سقوط کرد. همچنان شهرهای فراه و غزنی نیز در زمان حکومت وحدت ملی بر اثر حملات تهاجمی طالبان برای چند روز به دست طالبان افتاد.

شاخۀ خراسان گروه "دولت اسلامی" یا داعش نیز در اوایل حکومت وحدت ملی ظهور کرد و فعالیت‌های این گروه در طول چند سال عمر حکومت وحدت ملی، به حدی گسترش یافت که دامنۀ حملات خونین آن به پایتخت و سایر شهرهای بزرگ کشور نیز رسید و در حال حاضر تهدید بزرگی در برابر امنیت افغانستان محسوب می‌شود.

براساس گزارش اخیر ادارۀ بازرس ویژۀ امریکا برای بازسازی افغانستان یا سیگار، کنترول دولت افغانستان بر خاک کشورش رو به کاهش است. این گزارش که در تاریخ ۹ عقرب سال جاری خورشیدی به کانگرس امریکا تقدیم شد، می‌نگارد که کنترول و نفوذ دولت افغانستان به ۵٦ درصد از خاک این کشور کاهش یافته است، در حالیکه این رقم در عقرب سال ۱۳۹۴هـ ش ۷۲ درصد بود.

## حملات هوایی و تلفات نظامیان و غیر نظامیان افغان

در جنگ افغانستان، عدم توجه طرفین درگیر جنگ به زندگی غیرنظامیان، یکی از نگرانی‌های بزرگ و شنیع‌ترین بعد این جنگ به شمار می‌رود. در جنگ ۱۷ سال گذشته، هدف قرار دادن افراد ملکی و کشتار زنان و کودکان از سوی طرف‌های درگیر جنگ یک امر معمول گشته است. چنانچه با توجه به آمار نهادهای بین‌المللی، پس از سال ۲۰۱۴م و روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی در افغانستان، همه‌ساله بیش از ۱۰ هزار غیرنظامی در این جنگ کشته و زخمی شده‌اند.

برنیاد گزارش‌های یوناما که همه ساله از وضعیت تلفات ملکی در افغانستان گزارش تهیه می‌کند، مجموع تلفات ملکی در سال ۲۰۱۴م به ۱۰۵۳۴، در سال ۲۰۱۵م به ۱۱۰۰۲، در سال ۲۰۱٦م به ۱۱۵۰۰ و در سال ۲۰۱۷ م به ۱۰۴۵۳ فرد ملکی می‌رسد. همچنان بر بنیاد گزارش اخیر یوناما، در شش ماه نخست سال ۲۰۱۸م نیز ۵۱۲۲ فرد ملکي در افغانستان کشته و زخمی شده‌اند. براساس این گزارش، تلفات ملکی در شش ماه نخست سال ۲۰۱۸م نسبت به سال گذشته یک درصد افزایش یافته است.

علاوه بر بلند رفتن میزان تلفات افراد ملکی، تلفات نیروهای امنیتی نیز پس از ایجاد حکومت وحدت ملی افزایش یافته است. چنانچه در جریان سال ۲۰۱۵م نظر به گزارش سیگار، ۵۰۰۰ تن از نیروهای امنیتی در جنگ علیه مخالفین مسلح دولت کشته و ۱۵ هزار تن دیگر زخمی شدند. اما برنبیاد گزارش‌های دیگر سیگار، از اول ماه جنوری تا ۱۲ ماه نوامبر سال ۲۰۱٦ میلادی، ٦۷۸۵ تن از نیروهای افغان کشته و ۱۱۷۷۷ تن دیگر آنها زخمی شده بودند. ولی این رقم در سال ۲۰۱۷م افزایش بیشتر داشت. گزارش اخیر سیگار می‌نگارد که تنها از اول جنوری الی هشتم ماه می سال ۲۰۱۷م ۲۵۳۱ سرباز افغان کشته و ۴۲۳۸ سرباز دیگر زخمی شده‌اند.

در طول چند سال حکومت اشرف غنی، حملات مرگبار و کورکورانهٔ هوایی نیروهای خارجی و افغان نیز جان صدها تن از افراد ملکی و گاهی هم نیروهای نظامی حکومت افغانستان را گرفته است. این حملات با امضاء شدن پیمان امنیتی کابل ـ واشنگتن و بعدها پس از اعلام استراتیژي جدید نظامی امریکا برای افغانستان، چند برابر افزایش یافت و در موارد متعدد افراد ملکی را مورد هدف قرار داده‌اند. بر بنیاد گزارش‌ها، در سال ۲۰۱۷م نیروهای امریکایی در افغانستان ۲٦۱۱ حمله هوایی انجام داده‌اند، در حالیکه این رقم در سال ۲۰۱٦ م ۱۰۷۱ و در سال ۲۰۱۵م تنها ۲۳٦ حمله بود؛ اما با این همه حکومت وحدت ملی در برابر چنین رویدادها بصورت معمول همواره سکوت اختیار کرده است.

تنها در چند هفتهٔ گذشته گزارش‌های متعددی از کشتار غیر نظامیان در حملات هوایی نیروهای مشترک در ولایات مختلف کشور به نشر رسیده است. به گونهٔ مثال، در این حملات در قریهٔ ملاحافظ ولسوالی جغتو ولایت میدان وردگ ۱۴ غیر نظامی به شمول یک زن و ۱۱ کودک کشته شدند، در حملهٔ هوایی نیروهای خارجی بر مراسم عروسی در ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا ۱۸ غیر نظامی کشته شدند و در حملهٔ نیروهای مشترک در ولایت‌های پکتیا و ننگرهار ۲۹ غیرنظامی کشته شدند که نشانگر افزایش حملات هوایی و تلفات سنگین غیرنظامیان در این حملات است.

## چرا وضعیت امنیتی وخیم‌تر شد؟

در این مورد چند نکتهٔ ذیل قابل ذکر است:

**نخست**؛ پس از ظهور شاخهٔ خراسان گروه "دولت اسلامی" در افغانستان و پافشاری امریکا بر ادامهٔ حضور نظامی در منطقه، اجماع کشورهای منطقه و جهان در رابطه به قضیهٔ افغانستان برهم خورده است و کشورهای منطقه در مورد اهداف امریکا در این منطقه مشکوک شده‌اند. بنابراین، جنگ افغانستان روز به روز پیچیده‌تر شده و ظاهرا با توجه به بگومگوهای اخیر مقام‌های امریکایی و روسی نشان می‌دهد که یک «جنگ سرد جدید» بین قدرت‌های بزرگ در منطقه جریان دارد و افغانستان به یکی از میدان‌های اصلی این جنگ مبدل شده است.

**دوم**؛ چگونگی ساختار حکومت وحدت ملی و اختلافات سیاسی میان سران حکومتی از جمله عوامل اساسی تداوم ناامنی و بحران امنیتی افغانستان محسوب می‌شود. این ساختار و مصروف بودن دولتمردان افغانستان بر مسایل اختلافات داخلی و تقسیم قدرت، باعث شد که نه تنها کار موثر برای صلح و ختم جنگ صورت نگیرد، بلکه مانند سایر عرصه‌ها عرصهٔ امنیتی نیز در فقدان مدیریت درست و عدم هماهنگی در نهادهای امنیتی به سر برد، چیزیکه باعث افزایش تلفات به خصوص در حملات کورکورانه نیز گردیده است.

**سوم**؛ ضعف کاری و موجودیت فساد در نهادهای نظامی دولت یکی دیگر از عواملی بود که باعث وخیم شدن وضعیت امنیتی و تشدید جنگ در افغانستان شده است.  به دلیل موجودیت فساد در نهادهای امنیتی و صفوف نظامیان افغان، حتی از آب و نان نیروهای افغان نیز دزدی می‌شود. این امر باعث شده که افراد نیروهای افغان از حکومت دلسرد شوند و در برخی موارد حتی با صفوف مخالفین مسلح دولت بپیوندند و برضد دولت اسلحه بردارند.

**چهارم**؛ فقر و بی‌کاری از چالش‌های اند که بیشتر اوقات بدلیل آن مردم به صفوف مخالفین مسلح می‌پیوندند. این معضل در افغانستان در زمان حکومت وحدت ملی سال به سال تشدید یافت. بربنیاد گزارش‌های بانک جهانی در حاضر حدود ۴۰ درصد مردم افغانستان زیر خط فقر زندگی می‌کنند و نیز حدود ۲۴ درصد از نیروی کار افغانستان در بی‌کاری به سر می‌رد. در همچو وضعیت جوانانی زیادی به دزدی، قتل و گرفتن اسلحه روی می‌آورند که خود نقش مهمی در برهم زدن امنیت، تشدید جنگ و افزایش جرایم جنایی دارد. پایان

# د ولسي جرګې د ټاکنو په پایلو کې د روڼتیا په اړه شته اندېښنې



د ولسي جرګې د اوولسمې تقنینې دورې ټاکنې له غزنې او کندهاره پرته، د روان لمریز کال د تلې په ۲۸مه او ۲۹مه ترسره شوې. که څه هم له یادې شوې نېټې یوه اوونۍ وروسته په کندهار کې هم د ولسي جرګې ټاکنې ترسره شوې؛ خو په غزنې کې به دغه ټاکنې له را روانو ولسمشریزو ټاکنو سره یو ځای ترسره کېږي.

که څه هم په لومړیو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ویلي وو چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې به د روان لمریز کال د لړم په ۱۹مه او وروستۍ پایلې به یې د لېندۍ په ۲۹مه نېټه اعلان شي؛ خو تېره اوونۍ د ټاکنو کمیسیون د ولسي جرګې د لومړنیو پایلو د اعلان نېټه تر دوو اوونیو وځنډوله. له دغه ځنډ سره داسې شکونه او اندېښنې را ولاړې شوې دي چې ګواکې د پایلو په اعلان کې دغه ځنډ په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د درغلیو او ځینې پټو سیاسي معاملو د ترسره کولو لپاره راغلی دی.

دا چې د ټاکنو په پروسه کې کومې تخنیکي او عملیاتي ستونزې موجودې وې، د ټاکنو د وروستیو پایلو په اړه د پټو سیاسي معاملو او درغلیو په اړه شته شکونه او اندېښنې څه دي، د ولسي جرګې اوولسمې تقنینې دورې ته به څه ډول کسان راځي او د ولسمشرۍ په ټاکنو به د ولسي جرګې د ټاکنو اغېزې څه وي؟ هغه پوښتنې دي چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## په ټاکنو کې تخنیکي او عملیاتي ستونزې

د ولسي جرګې ټاکنې له درې کلن ځنډ وروسته، داسې مهال ترسره شوې چې له یوې خوا په هېواد کې د ناامنۍ له کبله د رایه ورکونې په شرایطو برابر هر افغان په‌کې ګډون ونه شو کړای او له بلې خوا په پوره توګه له بې‌نظمۍ او درغلیو سره هم مل وې.

په دغو ټاکنو کې د تخنیکي او عملیاتي ستونزو په اړه لاندې ټکي د یادونې وړ دي:

**لومړی**؛ د کابل په ګډون د هېواد په هغو سیمو کې چې امنیتي وضعیت یې نسبتاً ښه و، پام وړ خلکو په ټاکنو کې ګډون درلود؛ خو په دغو سیمې کې یوه لویه ستونزه د ټاکنو کمیسیون د کار مدیریتي ضعف و. د ټاکنو په لومړۍ ورځ په ډېری سیمو کې د رایې ورکونې مرکزونه په ځنډ سره خلاص شول چې له امله یې ټاکنې دویمې ورځې ته هم وغځېدې، د رایه ورکوونکو لیستونه هم د یوه سایټ په ځای بل سایټ ته لیږل شوي وو، چې له کبله یې ډېری کسانو په لیست کې د نوم د نه موجودیت له کبله رایه ونه کاروله، د بایومټریک ماشینونو ستونزې او په سم ډول کار نه کول او یا هم د بایومټریک ماشینونو پر کارونې د ټاکنو کمیسیون د کارکوونکو او عامو خلکو نه پوهېدل او دې ورته نورې هغه ستونزې وې، چې دغه پروسه یې له ننګونو سره مخ کړې وه.

**دویم:** د ټاکنو په ورځو کې بې‌نظمي او پراخه درغلي هغه څه وو، چې په اړه یې د ټاکنو څارونکي بنسټونه لا هم اندېښمن دي. د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د معلوماتو پر بنسټ، په ډېری سیمو کې چې د ناامنۍ له کبله هیڅ رایه نه ده په کې کارول شوې؛ خو د همدې سیمو د رایو صندوقونه د پیسو په بدل کې تر کمیسیونه ډک را رسېدلي دي. د بېلګې په توګه د کندوز ولایت په تاله او برفک ولسوالۍ کې پرته له دې چې څوک دې په ټاکنو کې برخه واخلي د یوه قومندان له لوري د مشخص نوماند په ګټه ۷۰۰۰ رایې کارول شوې دي. یا هم د وردګو ولایت په جغتو ولسوالۍ کې له دوو داسې کلیو څخه ۳۵۰۰ رایې حساب شوې دي، چې اصلاً هلته نه مرکز وجود درلود او نه هم چا رایه کارولې ده. دې ته ورته د هېواد په مختلفو سیمو کې یا رایې په پیسو خرڅې شوې دي، یا د سیمه‌ییزو زورواکو او قومندانانو په واسطه مشخصو نوماندانو ته صندوقونه ډک شوي او یا هم له کمیسیونه ځینو سیمو ته چې هلته د ناامنۍ له امله خلکو رایه نه شوه کارولی، ټاکنیز مواد په پوره توګه نه دي لیږدول شوي، بلکې په کمیسیون کې د ننه د ځینو نوماندانو په ګټه صندوقونه ډک شوي دي.

## د مهندسۍ تورونه

د ټاکنو له ترسره کېدو وروسته کله چې د رای‌پاڼو صندوقونه ببرته د هر ولایت د ټاکنو کمیسیون ولایتي دفتر او بیا مرکز ته ولیږدول شول، د کمیسیون د ننه یو ځل بیا د لاسوهنو په اړه د نوماندانو د ناظرینونه غږ پورته شو او په دې اړه شکونه له دې امله هم را پیدا کیږي، چې د ټاکنو پایلې په میاشتو نه اعلانېږي او د پایلو په اعلان کې همدا ځنډ په لوی لاس فساد او درغلیو ته د زمینې برابرولو په اړه شکونه پیدا کوي.

د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د معلوماتو پر بنسټ، د رایو د شمېر په پروسه کې هم د ځینو مشخصو کاندیدانو په ګټه لاسوهنې کېږي. د چا رایې زیاتېږي او د چا کمیږي. د زیاترو نوماندانو ناظرین شکایت کوي او وایي کوم لیستونه چې له مخې یې دوی د رایې ورکونې په مرکزونه کې د خپلو نوماندانو رایې شمېرلې وې، د رایو اوسنی تعداد یې هغه نه دی. دغه راز دوی وایي د رایې ورکونې په مرکزونو کې چې د رایو د صندوقونو د قلفونو کوم کوډ نمبرونه له ځان سره نوټ کړي دي، اوس د هغو صندوقونو د قلفونو کوډ نمبرونه تغییر شوي دي او ښکاره ده چې په صندوقونو کې لاسوهنه شوې ده.

مرکز ته د رسېدولو معلوماتو پر بنسټ ویل کیږي د ټاکنیزو کیمسیونونو د ننه د ولسي جرګې په ټاکنو کې د بریا په بدل کې د پیسو معامله له پنځه لکه ډالرو نیولې بیا تر یو نیم میلیون ډالرو پورې رسېږي. دغه وضعیت هغه نوماندان چې پیسې نه بلکې یوازې د ولس ملاتړ له ځای سره لري، د ټاکنو وروستیو پایلو ته خورا اندېښمن کړي دي.

پر دې ټولو سربېره، داسې ګنګوسې هم شته چې د یو شمېر مشخصو نوماندانو د بریا لپاره ارګ هم هلې ځلې کوي، ترڅو د دوی د خوښې کسان ولسي جرګې ته لاره پیدا کړي او بیا په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د ارګ د اوسني ټیم په ګټه کار وکړي.

## څوک به ولسي جرګې ته ځي؟

د ولسي جرګې په ټاکنو کې څه باندې دوه نیم زره کسانو ځانونه نوماند کړي دي. په دغه ډله کې د ټولنې د مختلفو طبقو او فکرونو خلکو حضور درلود؛ خو دا چې څه ډول کسان به ولسي جرګې ته لاره ومومي د مرکز د شنونکو په اند، شته وضعیت ته په کتلو سره به لاندې ډول نوماندان دغې جرګې ته لاره ومومي:

**لومړی**؛ د ولسي جرګې په ټاکنو کې به یو شمېر هغه کسان بریالي شي چې په راتلونکې کې د امریکا او حکومت ګټو ته ژمن وي. ځکه حکومت نه غواړي داسې یوه ولسي جرګه ولري چې په راتلونکې کې ورته درد سر واوسي.

**دویم**؛ د یو شمېر سیاسي او جهادي ګوندونو نوماندان د ولسي جرګې په ټاکنو کې د بریا خپلولو بله طبقه ده. ځکه دغه کسان هم له سیاسي او هم له مادي ملاتړ څخه برخمن دي، چې ښایي د سیاسي معاملې پر بنسټ یې تر ولسي جرګې ورسېږي.

**درېیم**؛ په درېیم قدم کې ولسي جرګې ته د تګ چانس تر ډېره له زورواکانو، سرمایه داره یا سوداګرو کسانو سره دی. دوی هڅه کوي چې په هره ممکنه لار ځان ولسي جرګې ته ورسوي، ترڅو د خپلو سرمایو د خوندي کولو او لا زیاتولو په موخه سیاسي ملاتړ هم له ځان سره ولري.

**څلورم**؛ له یادو شوو درېیو ډلو هاخوا څلورمه ډله ښایي هغه لږ شمېر کسان د ولسي جرګې غړي شي چې په رېښتنې توګه یې ور دي او غواړي پرته له کومې شخصي ګټې د خپل ولس استازولي او د هېواد خدمت وکړي.

## پر ولسمشریزو ټاکنو د ولسي جرګې د ټاکنو اغیز

د ولسي جرګې په ټاکنو کې له یوې خوا درې کاله ځنډ او له بلې خوا په داسې بې‌نظمۍ او درغلۍ سره یې ترسره کول، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کمزوري مدیریت او کم ظرفیتۍ ښکاره بیان دی.

د ولسي جرګې په ټاکنو کې د شته ستونزو له امله پر کمیسیون او دغه پروسه د خلکو باور خورا زیانمن شوی دی. د ټاکنو کمیسیون که چېرې د ولسي‌جر ګې د ټاکنو د پایلو په اعلان کې وروستۍ ټاکل شوې نېټې څخه نور هم ځنډ وکړي او په دغه پروسه کې د فساد خبره لا را ښکاره شي، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د ترسره کېدو باور به پرې سخت شي.

د ولسي جرګې په ټاکنو کې د هېواد په زیاتره ښارونو او سیمو کې خلک له ټولو امنیتي ګواښونو سره سره رایه ورکونې ته راووتل، لسګونه تنه یې د چاودونو او برېدونه له امله مړه او ټپیان شول؛ خو که چېرې د کمیسیون له لورې د دغو کسانو رایو ته احترام ونه شي او له ناپاکو رایو سره یې یو ځای کړي، یو خو یې په حق کې ظلم دی او بل دا چې نور نو بیا دغه خلک پر کمیسیون باور نه شي کولی او نه هم بل ځل په داسې شرایطو کې د رایې ورکونې په موخه له خپل کوره را وځي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com